# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د غويي لومړی | د ۲۰۱۹ د اپرېل ۲۱مه | دویم کال| ۳٦٦مه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### جهان پوهنتون

په دغه پوهنتون کې د تدریس چارې د لږترلږه ٦٥ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې شل سلنه د دوکتورا تر کچې او پاتې نور یې بیا د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري.




### په فراه او بادغیس کې د پیازو د ساتنې ۴۵ سړې خونې جوړېږي



د کرنې او مالدارۍ وزارت په فراه او بادغیس ولایتونو کې د پیازو د ساتنې لپاره ۴۵ صفر انرژي سړې خونې جوړوي.

د دغه وزارت وياند اکبر رستمي پرون ازادي راډيو ته ویلي، چې دغه سړې خونې به د روان کال په ترخ کې د پیازو د ساتلو، کښت ته د بزګرو د هڅونې او په بازار کې د خرڅلاو د نرخ د کنټرول په هدف جوړې شي.

ښاغلي رستمي زياته کړې چې دغه وزارت په پام کې لري، څو په نورو ولایتونو لکه کابل، پروان، کاپیسا، لوګر، میدان وردګو او غزني کې هم ورته سړې خونې جوړې کړي.

د یاد وزارت د چارواکو په خبره، دغه خونې به له بزګرانو سره د پیازو په ساتلو او همدارنګه د مناسب بازار په پیدا کولو کې ډېرې مرستې وکړي.

# پر مخابراتو وزارت ډلهییز برید؛

## په دغه برید کې ۱۵ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې ده




۳

په بین‌الافغاني خبرو کې ستونزې او د جګړې د زیاتېدو وېره

۲ مخ

باعزته سوله څه مانا؟

۲ مخ

«یو کمربند - یوه لار» به افغانستان د رنې ملغلرې په څېر بیا وځلوي

۳ مخ

### ګډو ځواکونو په میدان وردګو کې شپږ ملکیان وژلي دي

ګډو ځواکونو د میدان وردګو ولایت په نرخ ولسوالۍ کې اتو ملکیانو ته مرګ ژوبله اړولې او دوه تنه یې له ځانه سره بېولي دي.

د میدان وردګو د ولایتي شورا غړي شریف الله هوتک ویلي، چې ورمه شپه ځانګړو ځواکونو د نرخ ولسوالۍ په صدمردې کلي کې پر دوو کورونو عملیات کړي دي.

هغه زیاته کړې چې په دغو عملیاتو کې د یوه ښوونځي څوکیدار، د هغه مېرمن او څلور ماشومان وژل شوي او دوه نور ټپیان شوي دي.

هوتک زیاته کړې چې د یوې ښځې په ګډون، دوه ټپیان ځانګړو ځواکونو د درملنې لپاره له ځانه سره وړي دي. د نوموړي په خبره، د سیمې اوسېدونکي له جسدونو سره د اعتراض په ډول د ولایت مقام ته راغلي دي.

د سیمې یوه اوسېدونکي پژواک ته ویلي، چې ځانګړو ځواکونو لومړی عملیات کړي او بیا یې پر دوو کورونو بمبار کړی دی.

سرچینې زیاته کړې چې د دې ترڅنګ، د سیمې په بازار کې دوه دوکانونه هم د یادو ځواکونو لهخوا له منځه وړل شوي دي.

د صدمردې سیمې دغه اوسېدونکي ویلي، کله چې ځواکونه یاد کور ته ورغلي، له هغوی یې غوښتي چې له کوره ووځي چې دوی یې الوځوي، خو د کورنۍ غړو له کوره له وتلو انکار کړی دی. دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د سولې له خبرو سره جوخت، حکومت او وسله والو طالبانو په دې وروستیو کې د خپلو پسرلنیو عملیاتو اعلان کړی، چې په یادو عملیاتو کې تر ډېره ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي.

### د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوو




۵ مخ

### شرکت‌های قراردادی: وزارت داخله ۳،۳ میلیارد افغانی قرض ما را تادیه نمی کند



برخی شرکت‌های قراردادی با وزارت امور داخله، مدعی اند که به هزینه ۳.۳ میلیارد افغانی، مواد اعاشه را به این وزارت اکمال نموده، ولی پول آن را نپرداخته است. بازمحمد غیرت رئیس شرکت البدرکمپلکس، به نمایندگی از این شرکت‌ها گفته است که آنها از برج هشتم سال ۱۳۹۵ تا ماه سوم سال ۱۳۹۷، به ارزش ۱.۸ میلیون افغانی، به وزارت امور داخله مواد اعاشوی را اکمال نموده، ولی پولش را تادیه نکرده است.

وی علاوه کرده است که از ربع اول سال ۱۳۹۷ تاکنون، وزارت امور داخله آنها را مجبور نموده تا به هزینه ۱.۵ میلیارد افغانی مواد اعاشوی را اکمال نمایند؛ زیرا اذعان می کند که قراردادها تاکنون به پایان نرسیده اند. نامبرده افزوده است که در قانون و شرطنامه تدارکات درج است که طرفین باید مطابق قرارداد عمل کنند، قراردادی مواد اعاشه را به وقت معین اکمال می کند و اداره پول آن را به وقت مقرره می پردازد.

به قول موصوف، با وجودیکه اداره تدارکات ملی و ویس برمک وزیر آن وقت وزارت امور داخله، موضوع را به بخش مربوطه وزارت مالیه ارجاع کرد تا پول آنها تادیه شود، ولی مسؤلین وزارت تاکنون در مورد اجراآت نکرده اند.

اما سخنگوی وزارت امور داخله با درنظرداشت ادعای شرکت‌های متذکره، به پژواک گفته است که کار قرارادیان از گذشته مشکلات داشت؛ اما این مشکلات باید مجزا شود، دیده شود که کدام شرکت کار درست و کدام نادرست انجام داده است.

نامبرده افزوده است که وزارت امور داخله، این موضوع را جدی پیگیری می کند.


د کتاب نړیواله ورځ

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

تخفیف

20% 7%



سه شنبه د اپریل 23مه 2019

په ځانګړي تخفیف سره زیات کتابونه وپېرئ

## دریـــځ

### په بین‌الافغاني خبرو کې ستونزې او د جگړې د زیاتېدو وېره

په قطر کې د بين‌الافغاني مذاکراتو له ناکامۍ وروسته وېره ده، چې ښايي تاوتريخوالی او جگړه لا زيات شي. ورمه شپه په وردگو کې گډو ځواکونو عمليات کړي، چې د ښځو او ماشومان په گډون يې شپږ ملکي وگړي وژلي دي. پرون بيا پر مخابراتو وزارت ډله ييز بريد وشو، چې زموږ هېوادوالو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده. له نورو ولايتونو هم د نښتو او تاوتريخوالي خبرونه ورکړل شوي دي.

که څه هم پر مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ بريد داعش ته منسوب شوی او طالبانو پکې ښکېلتيا رد کړې ده، خو له دغو بريدونو سره دا وېره را پيدا شوې ده، چې په ښارونو کې به بريدونه ډېر شي. له طالبانو سره د خبرو له پيل وروسته، په ښارونو کې يا بريدونه نه دي شوي او يا هم کم شوي، چې دې ډېريو پړه يې طالبانو پر غاړه نه ده اخيستې. په ښارونو کې د بريدونو کموالی هغه څه وو، چې خلکو يې هرکلی کړی و او تمه وه چې په کليوالو سيمو کې به هم تاوتريخوالی را کم شي او شپني عمليات به هم ودرول شي او يا به کم شي.

تمه وه چې په قطر کې به له بين‌الافغاني غونډې وروسته، په تاوتريخوالي کې لا زيات کموالی راشي. که څه هم د رسمي اوربند شونتيا نه وه، خو فکر کېده چې د قطر غونډې گډونوال به له طالبانو او حکومت څخه وغواړي، چې تاوتريخوالی را کم کړي. دا اټکل هم کېده چې له دې غونډې وروسته به جگړه کمه شي. اوس چې دا غونډه ځنډېدلې او داسې څرک هم نه ليدل کېږي، چې په نږدې راتلونکې کې به وشي، نو نه يوازې د خلکو هيله کمه شوې، بلکې وېره زياته شوې ده چې تاوتريخوالی به زيات شي. دواړه لوري پر يو بل پړه اچوي، چې د قطر غونډه يې وځنډوله او دواړه لوري اوس د دې لپاره چې يو بل ته وښيي چې زور لري، ښايي تاوتريخوالی زيات شي.

د خلکو تمه دا ده چې د جگړې ښکېل لوري د بين‌الافغاني تفاهم او خبرو پر وړاندې خنډونه جوړ نه کړي. له بده مرغه هغه وشوه چې دا غونډه ونه شي. حکومت پر خپل دريځ ټينگار کوي او غواړي چې رسمي پلاوی يې قطر ته ورشي او له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي. طالبان بيا پر خپل دريځ ټينگار کوي او وايي چې له حکومت سره خبرې نه کوي. همدې چارې ستونزه جوړه کړې ده. اوس يوه درېيمه لاره هم پيدا کېدلی شي، خو د دې لپاره دواړه لوري بايد پر ځينو شرطونو سترگې پټې کړي او خنډونه کم کړي. دوی اوس بايد ډېره هڅه وکړي چې له خپله اړخه تر پخوا لا زياته نرمي وښيي. د خپلمنځي غونډې او تفاهم لپاره له خپلو شرطونو او دريځونو تېر شي او پرېږدي چې افغانان په خپلو منځو کې سره کښېني، خبرې وکړي او فاصلې کمې کړي. څومره چې د خبرو، تفاهم او جوړجاړي پر وړاندې خنډونه پيدا کېږي او مخه يې نيول کېږي، په همغه کچه جگړه زياتېږي او څوک چې دا خنډونه جوړوي، د جگړې  د دوام غوښتونکي او د افغان ولس دښمنان دي.

# ۲۰ سالگی بمباردمان هوایی یوگوسلاویا توسط کشورهای پیمان ناتو

۲۰ سال از بمباردمان غیرمشروع یوگوسلاویا توسط کشورهای عضو ناتو در این سال می‌گذرد. تجاوز ناتو بر این کشور، در سال ۱۹۹۹ میلادی درج صفحه سیاه تاریخ اروپا در اواخر قرن ۲۰ گردیده است. پس از ختم جنگ جهانی دوم، شهرها و دهات یک دولت مستقل اروپایی برای اولین بار تحت ضربات هوایی وحشیانه قرار گرفت که ۷۸ روز ادامه داشتند. در عین حال، تخلف از اساسنامه سازمان ملل متحد و سایر اسناد بین المللی و همچنان از موازین حقوق انسانی به خشن ترین طرز آن صورت گرفته بود.

ایالات متحده امریکا نقش مرکزی را در آماده سازی و اجرای عملیات در برابر یوگوسلاویا ایفاء نمود. امریکا از کوزوو منحیث پولیگون برای تکمیل دُکترین جدید استراتیژیکی ناتو استفاده نمود که این دُکترین جهت به کارگیری از نیروهای مسلح ناتو را در خارج از ساحه مسؤلیت‌اش اجازه می‌دهد. این کار برای برقراری نظم جهان یک قطبی که سرنوشت مردمان تمام جهان را از واشنگتن رقم زده می‌شد، صورت می گرفت. دُکترین مداخله بشردوستانه بعنوان ابزار مداخله در امور داخلی یک دولت دارای حاکمیت مورد آزمایش قرار گرفته بود. اکثریت مطلق ضربات هوایی از عرشه های طیاره ها و کشتی های امریکایی صورت گرفته بودند.

از نقطه نظر قانون، ضربات راکتی و هوایی ناتو بر اهداف در خاک یوگوسلاویا را مبتنی بر قطعنامه شماره ۳۳۱۴ مورخ ۱۴ دسمبر سال ۱۹۷۴ میلادی سازمان ملل متحد، می توان دقیقاً منیحث یک اقدام تجاوز مسلحانه طبقه بندی نمود.

عملیات ناتو زیر نام «نیروی متحد» از ۲۴ مارچ الی ۱۰ جون ۱۹۹۹ میلادی به بهانه ساختگی برای دفاع از البانیایی های کوزوو از تصفیه های قومی انجام شده است. از سوی دیگر، سیل اصلی مهاجرین از کوزوو (که تعداد عمومی آنها به ۸۰۰ نفر می رسید) بخصوص پس از آغاز بمباردمان های هوایی جاری گردید. وقوع یک رویداد در قریه راچاک در کوزوو به یک بهانه ساده برای آغاز حمله تبدیل گردید، زمانیکه یک امریکایی بنام اوکر که مسؤلیت ماموریت سازمان امنیت و همکاری در اروپا برای بررسی اوضاع در کوزوو را بر عهده داشت، کشتار شبه نظامیان البانیایی در یک رویارویی با نهادهای امنیتی صربستان را منحیث سرکوبی غیرنظامیان تفسیر نمود. قسمیکه معلوم است، هیچ نوع شواهدی در این مورد طی سال‌های گذشته ارائه نگردیده بود. همه درخواست ها برای افشای نتایج متخصصین در رابطه به حوادث در راچاک بی جواب باقی مانده بودند.

طبق معلومات موجود، بشمول بم های خوشه ای، ۲۳۰۰ فیر راکت، ۱۴۰۰۰ بمب، منجمله مهمات دارای یورانیوم تهی شده که محیط ماحول را آلوده ساخته، باعث امراض سرطانی گردیده و همچنان منجر به عقامت مبتلایان شده و بر صحت نسل های بعدی تأثیرات منفی می گذارد. در جریان حمله بر یوگوسلاویا پرتاب گردیده بودند.

در نتیجه بمباردمان حد اقل ۲۵۰۰ نفر افراد ملکی کشته شده و بنابر بعضی ارزیابی ها ۴۰۰۰ نفر و بیشتر از ۱۲۵۰۰ نفر زخم برداشته اند. در دوران بعد از عملیات نظامی، تقریباً دو صد هزار نفر صرب از بیم اینکه سرکوب نشوند، خانه های خود را در خاک کوزوو ترک کردند. علاوه بر آن، بیشتر از ۲۲ هزار نفر در سال ۲۰۱٦ میلادی در یوگوسلاویا از اثر آن مواد خطرناک کیمیاوی جان های خود را از دست دادند که بالای این کشور پرتاب گردیده بود. این رقم رکورد جهانی را قایم نموده است. مجموع خسارات وارده به اقتصاد یوگوسلاویا در جریان تجاوز طبق ارزیابی های مختلف از ۳۰ الی ۱۰۰ میلیارد دالر امریکایی تخمین زده شده است.

جامعه جهانی باید حوادث خطرناک سال ۱۹۹۹ میلادی در یوگوسلاویا را به یاد آورده و تمام مساعی را به خرچ دهد تا که از تکرار چنین رویدادها در آینده جلوگیری گردد.

بمباردمان هوایی ناتو در یوگوسلاویا به روشنی نشان می‌دهد که تلاش‌های بعضی کشورها غرض دستیابی به اهداف جیوپولیتیکی شان با دور زدن قوانین بین المللی و فیصله های شورای امنیت سازمان ملل متحد کدامین پیامدهای وحشتناکی را بدنبال دارد. تمام کشورهای جهان از این کار ناتو درس عبرت گرفتند، یعنی اینکه نباید در کنار کسی قرار گرفت و از بی قانونی چشم پوشی کرد، کاری که بعضی کشورهای خاص به انجام آن دست میزنند، زیرا هیچ کس نمی داند که کدام کشور دفعه دیگر در جای یوگوسلاویا قرار خواهد گرفت.

همین طور با گذشت ۳ سال از رویدادهای مذکور، ناتو و ایالات متحده امریکا روی ماشین جنگی خود را به طرف افغانستان دور داده اند. طی حضور نظامی کشورهای عضو ناتو در جمهوری اسلامی افغانستان از سال ۲۰۰۱ میلادی با این طرف، تقریباً ۳۸ هزار و ۵۰۰ نفر باشندگان ملکی و تخمیناً ٦۰ هزار سرباز افغان جان های خود را از دست داده اند که بخشی از غیر نظامیان در نتیجه عملیات نظامی نیروهای خارجی کشته شدند.

# پر مخابراتو وزارت ډله‌ییز برید؛

## په دغه برید کې ۱۵ تنو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



سره له دې چې په کابل کې په دې وروستيو کې امنيت او د خونړيو پېښو کموالي خلک هيله من کړي وو، خو پرون يو ځل بيا په تر ټولو امنه سيمه کې ډله ييز بريد وشو. د وروستيو معلوماتو له مخې، په پېښه کې څلور ملکيان او درې افغان سرتېري وژل شوي دي او اته کسه نور ټپيان دي.

د کورنيو چارو وزارت وياند نصرت الله رحيمي تېره ورځ ناوخته په ياده سيمه کې خبريالانو ته ويلي، چې ځانمرگو بريدگرو د مخابراتو وزارت ته څېرمه، له يوه زيارته په استفادې، د وزارت انگړ ته ننوتلي وو. د نوموړي په خبره، په لومړي سر کې يوه ځانمرگي بريدگر په ياده سيمه کې په ځان پورې تړلو چاودېدونکو توکو ته چاودنه ورکړه او وروسته څلور کسه نور وزارت ته دننه شول، چې وروسته يې له امنيتي ځواکونو سره نښته پيل کړه.

د رحيمي په خبره، وسله وال بريالي شوي نه دي چې د وزارت کارکوونکو او وداني ته ډېر زيان واړوي، ځکه امنيتي ځواکونه په وخت سيمې ته رسېدلي دي او بريد يې کابو کړی دی. د نوموړي په خبره، له مقاومت سره سره څلور ملکيان د وسله والو په بريد کې وژل شوي دي. رحيمي زياته کړې: ((بريدگر څلور کسان وو، بريد شپږ ساعته دوام وکړ، د بريدگرو په وژل کېدو پای ته ورسېد، څلور ملکيان او درې افغان سرتېري په دغه پېښه کې شهيان شوي دي)).

بلخوا د مخابراتو وزير بيا پر خپله رسمي فيسبوکپاڼه ليکلي، چې په نننۍ بريد کې يې خپل پنځه همکاران له لاسه ورکړي دي.

د کورنيو چارو وزارت همدا راز ويلي چې په پېښه کې څلور وسله وال هم وژل شوي دي او د بريد په اړه يې څېړنې پيل کړې دي. سره له دې چې په لومړي سر کې پر طالبانو د دغه بريد شک کېده، خو وسله والو طالبانو د يوې اعلاميې په خپرولو سره په دغه بريد کې خپل لاس لرل رد کړي دي.

د عامې روغتيا وزارت وياند وحيدالله مايار ويلي، پېښه کې دوه کسان وژل شوي او شپږ ټپيان روغتونو ته لېږدول شوي دي.

د کورنيو چارو وزارت د دوو وژل شويو بريدگرو تصويرونه خپاره کړي، چې پوځي يونيفورم يې اغوستی دی.

د افغان چارواکو په خبره، د بريد د سيمې له شاوخوا ودانيو سلگونه کسان د خونديتوب په موخه ايستل شوي وو. ويل کېږي چې مخابراتو او اطلاعاتو او کلتور وزارت ته نږدې ۳۰۰۰ ملکي کارکوونکي امنو سيمو ته د بريد پر مهال لېږدول شوي وو.  له ولسمشرۍ ماڼۍ څخه په يوه خپره شوې اعلاميه کې بيا ولسمشر غني دغه بريد په کلکو ټکو غندلی دی. په اعلاميه کې راغلي، چې دغه بريد د هېواد د ابادۍ او پرمختگ د دښمنانو له لوري شوی دی او افغان حکومت يې په کلکو ټکو غندي دي.

# قريشي: د بلوچستان په وروستۍ پېښه کې ايران لاس لري



د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي ويلي، پاکستان داسې کره شواهد تر لاسه کړي، چې ښيي د بلوچستان په وروستۍ پېښه کې لاس لرونکي وسله وال له ايرانه د پاکستان خاورې ته را اوښتي وو. هغه زياته کړې چې د بريد پر مهال وسله والو له ايراني چارواکو سره خبرې هم کړې دي.

نوموړي زياته کړې چې عمران خان نن ايران ته ځي او په همدې اړه به د دغه هېواد له چارواکو سره خبرې وکړي.

قريشي د يو مطبوعاتي کنفرانس پر مهال ويلي، تر بريد څو ورځې مخکې شاوخوا ۱۵ وسله وال چې د ملېشه ځواکونو جامې يې پر تن وې، له ايران څخه پاکستان ته اوښتي وو.

 قريشي دغه راز ويلي، هغه ډله چې د دې پېښې پړه يې منلې ده، د کرښې پورې غاړه (ايران) کې روزنځايونه او پټنځايونه لري. تر اوسه ايراني چارواکو په دې اړه څه نه دي ويلي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ايراني چارواکو په سيستان بلوچستان کې د سپاه پاسداران ځواکونو د خونړيو بريدونو مسووليت، په پاکستان کې پر وسله والو ډلو اچولی و او دغه هېواد ته يې خبرداری ورکړی و، چې که دوی په خپله خاوره کې د ترهگرو روزنځايونه له منځه يو نه سي، دوی به يې پر وړاندې اقدام وکړي.



# «یو کمربند - یوه لار» به افغانستان د رڼې ملغلرې په څېر بیا وځلوي

لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر لیوجېن سونگ

په تېر یوه کال کې د افغانستان د ملي موزیم او ملي خزانې اثار د چین په بېلابېلو لویو ښارونو کې ننداړې ته وړاندې شوي او ډېر مینه وال یې پیدا کړي دي. ټول کتونکي د افغانستان د تېر وخت د ځلاندو توکو په لېدو سره حیران او ډېر متاثره شوي دي.

د دغو تاریخي اثارو وخت له میلاد نه مخکې له دويمې پېړۍ تر دوولسمې میلادي پېړۍ پورې رسېږي. د لرغون پېژندنې د نتیجې او چین د تاریخي کتابونو له مخې، په هغه وخت کې افغانستان د اسیا او اروپا په وچو کې د تجارتي توکو د راټولولو او معاملو مرکز و. خلک یې ډېر شتمن وو، حکومتولي یې ډېره منظمه وه او وضعیت یې هم نسبتاً له سولې او امن ډک و. ان کله چې د چین د هغه وخت د امپراطور استازي جانگ چیان د افغانستان پاچا ته بلنه ورکړه، چې له چین سره په همکارۍ د دښمنانو پر ضد گډه مبارزه وکړي، افغان لوري داسې ځواب ورکړی چې دوی ارام ژوند غواړي او له نورو سره جگړه کول نه خوښوي.

له لومړۍ میلادي پېړۍ وروسته، افغانستان د ۱۵۰۰ کلونو په اوږدو کې د ورېښمو د لرغونې لارې یوه مرغلره وه. ډېر تاریخپوهان داسې وايي چې افغانستان د ډېرو اسیایي هېوادونو له برخلیکونو او د ورېښمو لارې د ترقۍ او تنزل سره نږدې اړیکې لري. له دې نظر څخه اقتصادي تیورۍ هم سمون لري.

د برېتانوي فیلسوف فرانسیس بېکون(Francis Bacon) یوه مشهوره خبره ده، هغه وايي چې درې شیان یو دولت لوی او بډای کولی شي: «حاصل خېزې ځمکې، بوخت ورکشاپونه او راحت ترانسپورټ». نوموړي په دغه خبره کې د یو هېواد د اقتصادي سمسورتیا درې مهم عوامل په گوته کړي دي: زراعت، صنعت او ترافیک.

یو پیاوړی او ارام هېواد له خپلې کرنې پرته ژوندی نه شي پاتې کېدای. بزگران یې باید کاسه ټینگه په لاس کې ونیسي او ورځ تر بلې شتمن شي او ورسره دې اضافي غلې دانې د اخیستلو لپاره پیسې هم ولري. دغه راز نور پاتې کارگران یې باید د خپل ژوند د برابرولو لپاره نورې لارې ولټولای شي، دا د ښارونو د اقتصاد او صنعتي کېدو لپاره د اړینو پیسو او انساني ځواک لومړنۍ سرچینه ده.

په لومړیو وختونو کې افغانستان او چین دواړه لوی زراعتي هېوادونه وو، زراعتي وسایل او په ځمکو کې یې د اوبو لگونې سیستم په هغه وخت کې په نړۍ کې تر ټولو پرمختللی او منظم و. افغانستان ته د چین عمده صادراتي توکي ورېښم او چای وو او چین ته د افغانستان او منځنۍ اسیا هېوادونو تر ټولو مهم صادراتي توکي جنگي اسونه وو. دا ټول کرنیز او اهلي تولیدات وو. هغه هېوادونه چې د اوبو لگولو پروژې یې ترسره کړې، له کرنیزو تولیدي چارو څخه یې ملاتړ کړی، د کوچنیو بزگرانو اقتصاد یې ساتلی، د بزگرانو او ښاري طبقې ترمنځ د گټو د برابرولو لپاره یې د خوراکي توکو بیې تنظیم کړې او حکومتولۍ یې عموماً پیاوړې او پراخې کړې دي.

له کرنې پرته به د لویو هېوادونو سیاسي ثبات، دوامداره سوداگري، د ورېښمو لار او د دې لارې پر غاړه د پرتو هېوادونو سمسورتیا نه وي.

راځئ چې صنعتي چارو ته پام وکړو. یو چیني متل چې وايي، بې له صنعتي چارو شتمني نشي پیدا کېدای. نه یوازې د ورېښمو په لرغونې، بلکې هم اوسنۍ لار کې تر ټولو د هرکلي وړ توکي کرنیز تولیدات یا خام مواد نه دي، خو غوره چمتو کېدونکي توکي یا صنعتي تولیدات دي. د بېلگې په ډول، په لرغونې زمانه کې د چین ورېښم، چیني باب، د افغانستان کاشي کاري او نن ورځ ټلیفونونه او الوتکې. یو iPhone ۷ ټلیفون چې قېمت یې شاوخوا ٦۵۰ امریکایي ډالره دی، د یو افغان بزگر له کلنیو عایداتو سره برابر دی. له دې جملې څخه چینایان د بېلابېلو پروژو په درلودو سره یوازې ۸،۴٦ ډالره، جاپان او جنوبي کوریا د ځانگړو موادو او ډیزاینونو د برابرولو له لارې ٦۸ او ۱۷ ډالره گټي. دغه راز کابو د ۲۸۳ امریکایي ډالرو په اندازه گټه د Apple شرکت ته ځي. ځکه چې دغه شرکت اړوند امتیازي حقونه، تخنیکونه او د پلورنې چینلونه لري. دا د معاصرو صنعتي چارو او د اړوندو گټو د وېشلو په اړه رښتیني واقعیتونه دي. پر یو بوین الوتکه څه کم سل میلیونه امریکایي ډالر لگېږي، چې د ۱۲۰ زرو افغان بزگرانو له کلنیو عایداتو او د لسو میلیونو کمپسیونو له گټو سره برابر دی، چې د چین لخوا تولیدېږي.

په پای کې د ترانسپورټ په اړه خبرې کوم. له معمول سره سم که کرنیز تولیدات د انسانانو او یا هم ژویو په وسیله انتقالېږي او واټن یې له سلو کیلومترو اوړي، نو د لېږد لگښت به یې له ځاني ارزښت څخه لوړ شي او په بازار کې د سیالۍ توان به له لاسه ورکړي. د ورېښمو په لرغونې لار کې د مالونو ځمکني لېږد رالېږد، اکثراً د اوښانو او اسونو په وسیله تر سره کېده. یو اوښ د ۲۰۰ کیلوگرامو توکو په وړلو سره زر کیلومتره لرې ځای ته تللی شوای، خو لگښت یې همېشه د توکو د ارزښت له نیمې برخې څخه لا هم زیات و.

سمندري ترانسپورټ بېله خبره ده. د زرو ټنو په کچه یوه بېړۍ کې توکي ځایېږي، چې پنځه زره اوښان یې وړلای شي او د هر ټن توکي ترانسپورټي لگښت یې له شلو امریکایي ډالرو هم کمېږي. دا د اروپا د بېړۍ چلېدونکې زماني تر پیل وروسته، د ورېښمو ځمکنۍ لارې د ژر کمزورې کېدو مهمه زمینه بلل کېږي.

حتی نن ورځ د سمندري لارې په پرتله، ځمکنی لېږد رالېږد لا هم ډېرې نیمگړتیاوې لري. له کابل څخه د چین اروموچي ته کابو ۳۰۰۰ کیلومتره واټن دی. د یو معیاري کانټینر لېږدولو ته اورگاډي او موټرونه پکار دي، چې ۷۱۰۰ امریکایي ډالره پرې لگېږي. خو له کراچۍ څخه د چین تیان جین سمندري بندر ته د یو معیاري کانټینر لېږد که څه هم لس زره کیلومتره لرې دی، خو یوازې زرو امریکایي ډالرو ته اړتیا لري. خو که دغه کانټینر له کابل نه د کراچۍ له لارې چین ته لېږدوي، مصارف به یې د ځمکني ترانسپورټي لگښت او د کراچۍ له لارې د اړوندو پیسو په گډون، له ٦۰۰۰ امریکایي ډالره هم واوړي.

د یو کانټینر لېږدولو ته له ٦۰۰۰ تر ۷۰۰۰ امریکایي ډالر پکار او مالیات یې په منځنۍ توگه شاوخوا ۳۰۰۰ ډالره دي. ټول لگښت یې له لسو زرو ډالرو هم زیات دی، چې د زیاتو توکو د اصلي ارزښت په پرتله قیمتي دی. دا د دې عمده سبب دی چې افغانستان زیات ځانگړي تولیدات بهر ته نشي صادرولای، په بهرنیو بازارونو کې د سیالۍ توان یې کمزوری دی او افغان بزگران تل په بېوزلۍ کې پاتې دي.

بله خبره دا ده، کله چې مارکو پولو د ایټالیا له وینس څخه او بیا له افغانستان څخه په تېرېدو سره چین ته سفر کاوه، که څه هم د سفر بهیر یې ډېر ستونزمن و، خو هغه وخت د ورېښمو ټوله لار د مغولیانو تر تسلط لاندې وه. پاسپورټ او ویزې ته اړتیا نه وه او ځایي حکومت به دومره زیات مالیات نه اخیستل او کله کله به یې سوداگرو ته د استوگنې او امنیت اسانتیاوې برابرولې. نو ځکه مارکو پولو او ملگرو یې په دغه سفر کې گټې پیدا کولای شوای. له معاصرې زمانې راهیسې د اروپایي او اسیایي هېوادونو ترمنځ د متقابلو گمرکي مالیاتو، تېرېدونکي او امنیتي لگښتونه تل په یو لوړ ځای کې ساتل شوي، چې پر اقتصاد یې ستر اغېز کړی دی.

افغانستان د سترې وچې یو چاپېر هېواد دی، چې سمندري بندر نه لري. د عواملو تفاوت او د اقتصاد د پرمختیایي مرحلې له لحاظه که نشي کېدای چې د سویډن او لوکسنبورگ په شان ډېر پرمختللي تولیدي یا پولي چارې ولري او په بانکونو کې د خلکو پس انداز او بهرنۍ پانگونې دومره کافي هم نه وي، نو افغانستان دې د خپلو کرنیزو، کانې چارو، لاسي صنایعو او سیلانۍ او تېرېدونکې سوداگرۍ په اتکا سره، د سرمایو ابتدایي راغونډونه تر سره کړي او په تدریجي توگه به د صنعتي او عصري کېدو بهیر بشپړ شي. له دې څخه د سیمې په اقتصادي همکارۍ کې د افغانستان د برخې اخیستنې ستر اهمیت، ضرورت او یوه مهمه برخه ښکاري.

ولې د ورېښمو په لرغونې لار کې افغانستان ډېر سمسور و، ځکه چې هغه وخت افغانستان خپل ځانگړي تولیدات درلودل، دننه یې سوله وه او پر ورخلاصون، متقابل پیوستون او نیک گاونډیتوب یې تل ټینگار کاوه. دا د نننۍ افغانستان لپاره هم گټه لري. باور لرم چې د افغانستان د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ غونډې(RECCA) د پرمخبیولو، د منځنۍ اسیا په سیمه ییزه اقتصادي همکارۍ(CAREC) او د جنوبي اسیا د سیمه ییزې همکارۍ په ائتلاف کې د گډون، د منځنۍ او جنوبي اسیا ترمنځ د برقي شبکې پروژې(CASA-1000)، د ترکیې، افغانستان او پاکستان ترمنځ د طبیعي گازو پایپلین پروژې، د لاجوردو دهلیز او د بېلابېلو هوایي دهلیزونو د پرانیستلو په برخو کې د افغانستان رواني هڅې او کوښښونه د تاریخي تجربو پر بنسټ ولاړ دي. د ورېښمو لرغونې لارې په اړه د روحیې په میراث راوړل شوي او د خپلو ښېگنو د جوړولو، د یوې ځانگړې سوداگریزې لارې د پرانیستلو او د ترانسپورټي لگښت د کمولو لپاره دي. نن ورځ یو وړاندیز، ډگر یا میکانېزم د سیمې په اقتصادي همکارۍ کې د افغانستان د ونډې اخیستلو موخه پوره کولای شي، له افغانستان سره مرسته کولای شي چې د سترو وچو په چاپېر له هېواد څخه د مختلفو سترو وچو ترمنځ په یو نښلوونکي هېواد بدل کړي، له اقتصادي رکود څخه د پرمختگ لوړ ډگر ته گام واخلي او د دغه هېواد کرنیزو، صنعتي او سوداگریزو چارو ته پرمختگ ورکړي. دا د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز دی.

د روان کال په سر کې د افغانستان د پالیسیو تحلیل او پرمختیایي څېړنې سازمان(DROPS) بنسټگرې او اجرایوي مشرې، ډاکترې مریم ساپۍ تر دې سرلیک لاندې یو څېړنیز رپوټ خپور کړ، چې د یو کمربند او یوې لارې په وړاندیز کې د افغانستان شاملېدل: «وړاندې ته کتنه، څېړنه او لرلید». دا د افغان کارپوهانو لخوا لوړ رپوټ دی چې په سیستماتیکه توگه پر یو کمربند او یوې لارې څېړنه کېږي. هغې ځرگنده کړه: «په داسې حال کې چې په افغانستان کې امنیتي حالات پر له پسې د خړپړتیا په حال کې دي، د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز دغه هېواد ته د زړه قوت برابروي، چې د افغانستان د دولت او خلکو په گټه دی. د افغانستان پټ توان لوړولی شي او د اسیا زړه، د اروپا او اسیا ترمنځ د څلور لارې او د ورېښمو لارې په اوږدو کې د سوداگرۍ مرکز په توگه د افغانستان پخوانۍ سمسورتیا بیا را ژوندۍ کولای شي».

یو کمربند او یوه لار د ورېښمو لارې اقتصادي کمربند او په ۲۱مه پېړۍ کې د ورېښمو سمندري لارې عمومي نوم دی، چې د رییس شي جېن پینگ لخوا په ۲۰۱۳ ز کال کې په قزاقستان او اندونیزیا کې وړاندې شوی دی. دغه وړاندیز د ولسمشر غني او د افغانستان د بېلابېلو ټولنو ملاتړ خپل کړی دی. زما په نظر، یو کمربند او یوه لار په نننۍ نړۍ کې د خلکو د ژوند په اړه تر ټولو گرمه پروژه، د بنسټیزو تاسیساتو د جوړولو تر ټولو لویه نقشه، تر ټولو قوي پرمختیایي پلان او د نړیوالې همکارۍ په تړاو تر ټولو صمیمي وړاندیز دی.

**د نړیوالې همکارۍ د دغه ستر وړاندیز په اړه مو له یوه تر اتو پورې په لنډ ډول یادونه کړې ده:**

۱ـ د انسانانو د گډ برخلیک ټولنې ابادې دي. دغه ټولنه د اروپایي ټولنې په څېر نه ده، خو پر دې بنسټ دې جوړه شي چې مختلف هېوادونه دې یو د بل ملي حاکمیت ته متقابل درناوی وکړي. پر ورخلاصون، مساواتو او تدریجي پرمختگ دې ټینگار وکړي او یو د بل سوکالۍ ته دې پاملرنه وکړي. په داسې حال کې چې سیمه ییز یووالی، گډ پرمختگ او تلپاتې سوله تر سره کېدلی شي.

۲- د اروپا او اسیا سترو وچو او شاوخوا سمندر په مرکز کې د ځمکنیو او سمندري لارو په کارولو سره دې د اسیا Garuda ته دوه وزرونه ودرول شي.

۳- د گډې سلامشورې، ابادۍ او شریکونې پر اصولو دې ټینگار وشي او د لوړ کیفیت، معیار او سویې مراعات دې وشي. یو کمربند او یوه لار د چین په وړاندیز، خو د چین تر لارښوونې لاندې نه ده. برخه وال یې یو د بل مساوي پرمختیایي همکاران دي، چې یو له بل سره د مرسته کوونکو او مرسته منونکو ترمنځ اړیکې لري. دا له مارشال پلان سره بېخي توپیر لري.

۴- د اروپا او اسیا سترو وچو مستقیمې گټې څه باندې څلورو میلیاردو ټنو ته رسېږي. تر اوسه پورې ۱۴۰ هېوادونو له یو کمربند او یوې لارې څخه ملاتړ یا پکې گډون کړی دی. په دې جمله کې نه یوازې د تاجکستان، نیپال او کنیا په گډون پرمختیایي هېوادونه، بلکې د ایټالیا، جرمني او فرانسې په گډون، زیات پرمختللي هېوادونه هم لیدل کېږي. د اپریل په نهمه د چین او اروپایي ټولنې مشرانو د یوې گډې اعلامیې په خپرولو سره موافقه کړې، چې د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز، د اروپا او اسیا ترمنځ د متقابل پیوستون په اړه د اروپایي ټولنې ستراتیژۍ او په اروپا او شاوخوا سیمه کې د ترانسپورټي شبکې ترمنځ د نښلولو هڅو ته به دوام ورکړي.

۵- عمده محتویات یې د پالیسۍ، بنسټیزو تاسیساتو، سوداگرۍ، پولي چارو، انساني او کلتوري تگ راتگ په اساس مخکې وړل کېږي.

٦- د ورېښمو اقتصادي لارې په بنسټیز چوکاټ کې شپږ اقتصادي دهلیزونه او شپږ ډوله لارې شاملې دي. شپږ اقتصادي دهلیزونه دا دي: چین، روسیه، مغولستان، د اسیا-اروپا نوی ځمکنی پول، چین-منځنۍ اسیا- لوېدیځه اسیا، چین- پاکستان، بنگلادیش- چین- هند- میانمار او د چین- اندونیزیا ټاپوونه. شپږ ډوله لارې یې بیا دا دي: اوسپنیزه لار، سړک، سمندري لار، هوایي لار، پایپلین او معلوماتي لار.

۷- د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز د اوو جغرافیایي تختو په تړاو دی. یعنې شمال ختیځه اسیا، جنوب ختیځه اسیا، جنوبي اسیا، منځنۍ اسیا، لوېدیځه اسیا، شمالي افریقا، روسیه، اروپا او نورې سیمې. دغه وړاندیز ټولو همکارانو ته خپله دروازه خلاصوي.

۸- دغه وړاندیز اته غوره ساحې لري، چې د بنسټیزو تاسیساتو متقابل پیوستون، د صنعتي کېدو بهیر، د انرژۍ او سرچینو استخراج، اقتصادي او سوداگریزه همکاري، پولي همکاري، کلتوري تبادله، د چاپېریال ساتنه او سمندري همکاري پکې شامل دي.

ولې چین د یو کمربند او یوې لارې وړاندیز کوي؟ په دې اړه بېلابېلې پوښتنې شته. ځینې خلک وايي، دا د چین یوه لویه جغرافیایي ستراتیژي ده چې د امریکا د اسیا او ارام سمندر د بیا برابرۍ او اندو- ارام سمندر له ستراتیژیو سره د مقابلې لپاره تاکل کېږي او موخه یې نورو هېوادونو ته د چین اضافي تولیدي قوې انتقالول دي.

په حقیقت کې دا ټول د اندېښنې وړ نه دي. یو کمربند او یوه لار لومه نه ده، چا ته نوک نه ورکوي او کوم مقابلوي تدبیر نه دی، خو ډله ییزه همکاري ده. البته دغه وړاندیز د یو ستر هېواد په توگه د چین د ځانگړې ډیپلوماسۍ لپاره یوه ازموینه گڼل کېږي.

**ولې چین دغه وړاندیز کوي، لړترلړه څلور لاملونه لري:**

لومړی- چین غواړي لا مساوي، هر اړخیز او باکیفیته پرمختگ پیدا کړي، چې د خپل هېواد لوېدیځه برخه استخراج کړي. د دې سیمې ښېگڼې ځرگندې کړي، د ختیځې برخې او ساحلي سیمې په مرکز کې، اوسنې اقتصادي حالات بدل کړي او په ټول هېواد کې هر اړخیز او مساوي پرمختگ وکړي.

**دوام...**

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډېویډ شوارتز
ژباړن: میراحمد یاد

### نهم څپرکی
### پر خلکو نېک ګومان کوئ




دې څپرکي کې درته د بري یو لوی اصل ښیم، دا یاد ساتئ، اصل دا دی چې: د هر انسان بری د هغه په ملاتړو پورې اړه لري. ستاسې او ستاسې د هیلو ترمنځ یوازینی دیوال د نورو خلکو ملاتړ یا نه ملاتړ دی. له بله اړخه. اجرائیوي مدیر موخو ته د رسېدو لپاره خپل پرسونل ته اړ دی. که د ده امر ونه منل شي، د شرکت رئیس کارکوونکی نه، بلکې دی له دندې لرې کوي. پلورونکی د سودا خرڅولو لپاره خلکو ته اړ دی. که خلک د ده توکي وا نه خلي، ماتې به وخوري. د پوهنتون رئیس د درسي پلان پلي کولو لپاره استادانو ته اړ دی. سیاستوال ټاکنو کې د خلکو رایې ته اړ دي. لیکوال د خپلو اثارو لوستونکو ته اړ دي... د زنځیري مغازې مدیر له دې امله مدیر شوی چې کارکوونکو یې رهبري منلې او پېرودونکو یې د پېر پلان منلی دی. تاریخ کې داسې هم شوي چې یو کس یوه موقف ته په زور رسېدلای او بیا یې د موقف ساتنې لپاره زور کارولی دی. هغه وخت کې باید خلک یا همدې مشر پسې تللي وی یا باید وژل شوی وی. خو دا یاد ساتئ چې نن د هر چا خپله خوښه ده، چې ستاسې ملاتړ کوي او که یې نه کوي. اوس پوښتنه دا ده چې موږ خپلو چارو کې نورو ته اړ یو، نو داسې څه وکړو چې هغوی مو ملاتړ وکړي او مشري مو ومني؟

ځواب یې اسانه دی: پر خلکو نیم یا ناسم ګومان مه کوئ، تاسې پرې سم ګومان وکړئ، هغوی به ستاسې ملاتړ وکړي. دا څپرکی به در وښیي چې څنګه؟

هره ورځ داسې زرګونه صحنې تېرېږي. خلک راټول وي، بحث کوي او موخه یې دا وي چې ترفیع، نوې دندې یا د یوه کلوپ غړیتوب ته نومونه وټاکي، یو کس د یوه شرکت رئیس کړي، نوی سرکاریګر یې کړي یا یې د خرڅلاو مدیر کړي. یو نوم واخیستل شي او بیا رئیس پوښتنه وکړي چې: (د دې شخص په اړه ستاسې څه نظر دی؟)

هر څوک خپل نظر وایي، د ځینو په اړه مثبت نظریات ویل کېږي لکه (ښه سړی دی، مسلکي تجربه هم لري.) (ښاغلی ف؟ هو دا خو ښه مسئول سړی دی، مناسب دی، زه باور لرم چې زموږ په ډله کې به ځای شي.)

د ځینو نومونو په اړه بیا منفي نظریات ورکول کېږي، مثلاً : (زه وایم چې لږه دقیقه څېړنه باید پرې وکړو، زه فکر نه کوم چې خلکو سره دې داسې په اسانه ګوزاره وکړی شي.)

(زده کړې او کاري تجربه یې ښه ده، مهارت هم لري، خو زه وېرېږم چې ځان به ځای نه کړی شي، ځکه د نورو خلکو درناوی په اسانه نه شي ترلاسه کولای.) اوس ستاسې پام یوې جالبې موضوع ته راګرځوم. په لږ تر لږه نوي سلنه مواردو کې د (محبوبیت) عامل ته ډېر پام کېږي او زیاتره وخت محبوبیت ته تر مهارت ډېر ارزښت ورکول کېږي.

دا خبره ان د پوهنتون د استادانو په ګومارلو کې هم صدق کوي. ما زیاتره وخت د پوهنتون د علمي کادرونو د ټاکنو په غونډو کې کړې دی. په دې غونډو کې به چې د چا نوم واخیستل شو، نو زیاتره خلکو به پر دې مسائلو ټینګار کاوه چې: (دا کار ورته مناسب دی؟، د شاګردانو به خوښ شي؟ نورو همکارانو سره به یې ګوزاره وشي؟) هلته یوازې د خلکو علمي او تخصصي اعتبار ته ارزښت نه ورکول کېده، ځکه که انسان خپله ښه نه وي، د خپلو شاګردانو په زړه کې ځای نه شي موندلای، که څه هم ګټورتیا به یې ډېره لوړه وي.

دې ته ښه پام وکړئ. هېڅوک تاسې لوړو موقفونو ته نه راکاږي، بلکې ارتقا درکوي. نن سبا هېڅوک دومره وخت او حوصله نه لري چې یو کس دې په دومره تکلیفونو ځان پسې لوړ موقف ته کش کړي. یوازې هغه کس ټاکل کېږي چې سابقه یې تر نورو ښه او جلا وي.

موږ چې څوک لوړو موقفونو ته بیایي، اصلاً ورته موږ په زړه پورې، معقول او مدلل ښکارو. هر چا سره چې ملګرتیا کوو، دا موږ یوه پوړۍ لوړوي یا مو لوړ موقف ته یوه زینه پورته کوي. بریالي خلک د خلکو خوښولو لپاره پلان جوړوي او عملي کوي یې. تاسې څنګه؟ کوم خلک چې لوړو موقفونو ته رسېدلي، د نورو په اړه د خپل فکر تکتیکونه نه بیانوي، خو تاسې باور وکړئ چې زیاتره بریالي خلک د نورو خلکو خوښولو لپاره لوی، روښانه، مشخص او حتی لیکلي پلانونه لري. ولسمشر لیندون جونسن ته وګورئ. ده له ولسمشرۍ مخکې د واک ترلاسه کولو لپاره خپل لس ماده ایز پلان جوړ کړ. دا اصول عادي انسان هم د ده په چارو کې له ورایه لیدلای شوی، موږ یې هماغه اصول کټ مټ دلته رانقلوو:

۱. نومونه یاد ساتئ، ګڼي د هغوی په اړه به د نه لېوالتیا نښه ښکاره شي.
۲. ډېر تکلف مه کوئ، ساده او راحته انسان اوسئ چې څوک درسره تنګ نه شي.
۳. په دې باور شه چې څه کېږي، ښه کېږي، که داسې وکړئ هېڅوک او هېڅ شی به مو نارامه نه کړي.
٤. پر ځان مه مینېږئ، داسې مه ښیي چې په هر څه ګڼي پوهېږئ.
٥. ځان کې په زړه پورې ځانګړنې پیدا کړئ چې د خلکو پام در واړوي او خلک تاسره په ناستې پاستې ارښتمن برداشت وکړي.
٦. خپل شخصیت په ذره بین وګورئ، نیمګړتیاوې ترې وباسئ، خصوصاً هغه شیان چې تاسې ترې خبر نه یئ.
۷. هڅه وکړئ چې مخلص ووسئ، سوی تفاهمونه په اخلاص او رښتینولۍ حل کړئ.
۸. له خلکو سره دومره مینه وکړئ، چې دا مینه مو عادت شي.
۹. خلکو سره د خواخوږۍ، مبارکۍ او نمانځنو له فرصتونو ګټه واخلئ، د ناکامۍ پر وخت لاس ورکړئ او د بري پر وخت یې وستایئ.
۱۰. خلکو ته روحاني قوت ورکړئ، اغېز به یې پر تاسې ښکاره شي.

**دوام لري...**

# جهان پوهنتون

حمیدالله حمیدي




اکاډمیک مرکزونه او هغه ځایونه چې زده کړې پکې کېږي، که هر څومره ډېر هم شي، خو بیا یې هم کمی احساسېږي. دا چې نړۍ د پرمختګ په حال کې ده او دغه پرمختګ د علم او زده کړو په وسیله کېږي، نو څومره چې په یوه هېواد کې روزنیز مرکزونه، کورسونه، ښوونځي، مدرسې او پوهنتونونه ډېر وي، په هماغه کچه به یې ټولنه هم لوستې او پرمختللې وي. د جهان خصوصي پوهنتون د بنسټ ډېره د هېواد د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ، په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د دریو پوهنځیو (حقوقو، اقتصاد او شرعیاتو) په درلودلو سره ایښودل شوې ده. د دغه پوهنتون اداري مسوول شاه مقصود وایي، له ګام پر ګام پرمختګ وروسته وتوانېدل، چې د دوو نورو پوهنځیو منظوري هم واخلي او محصلین ورته جذب کړي. ښاغلی شاه مقصود وایي، جهان پوهنتون اوس ټول پنځه پوهنځي لري.

د شاه مقصود په خبره، هر پوهنځی یې دوه دوه ډیپارټمنټونه لري. د بېلګې په توګه، اقتصاد پوهنځي کې (اداره او تجارت)، حقوقو کې (قضا او څارنوالي)، شرعیاتو کې (فقه او قانون)، بي بي اې کې (فایننس او اې چار) او په کمپیوټر ساینس کې بیا د (ډېټابېس او نیټورکېنګ) ډیپارټمنټونه لري.

د شاه مقصود په خبره، بي بي اې پوهنځي کې په انګرېزي ژبه او پاتې نورو کې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو تدریس کېږي.

د دغه پوهنتون مسوولین وایي، له پیله یې په دې اړه فکر کړی و او داسې کسان یې په اړوند برخه کې ګومارلي، چې وکړای شي د خلکو غوښتنې درک او له اړتیا سره سم داسې پوهنځي رامنځ ته کړي، چې د کار په مارکېټ کې یې فارغینو ته اړتیا ولیدل شي او په هغو برخو کې محصلین جذب کړي. د جهان پوهنتون اداري مسوول شاه مقصود وایي، د لوړو زده کړو د موسسې لومړنۍ چارې یې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې پیل کړې او له خورا چټک پرمختګ وروسته، په ۱۳۹۳ لمریز کال کې پر دې وتوانېدل، چې د لوړو زده کړو وزارت ټول هغه معیارونه چې له موسسې څخه پوهنتون ته د ارتقاع لپاره یې ټاکلي دي، پوره کړي او موسسه یې پوهنتون ته ارتقاع وکړي.

د جهان خصوصي پوهنتون له پنځو پوهنځیو څخه تر اوسه پورې پنځه دورې محصلین فارغ شوي، چې ډېری یې اوس په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي. ښاغلی شاه مقصود وایي، اوسمهال له اتو زرو څخه زیات محصلین لري، چې له دې ډلې ۴۲ سلنه یې ښځینه او پاتې یې نارینه محصلین دي.

په دغه پوهنتون کې د تدریس چارې د لږترلږه ٦٥ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ښځینه استادنې هم پکې شته. د شاه مقصود په خبره، شل سلنه استادان یې د دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې ماسټران دي. نوموړی وایي، استادان یې هڅه کوي چې داسې تدریسي میتود عملي کړي، چې وکولی شي په اسانۍ سره خپل معلومات محصلینو ته ورسوي او د کار له مارکېټ سره سم کسان فارغ کړي. نوموړی وایي، له دغه پوهنتون څخه فارغېدونکي محصلین ډېر ژر په دولتي او یا هم غیر دولتي ادارو کې پر دندو ګومارل کېږي، ځکه دوی له فراغت او کار کولو مخکې تجربې تر لاسه کړې وي، چې بیا وروسته له کومې ستونزې سره نه مخ کېږي.

دا چې د جهان پوهنتون د محصلینو شمېر ډېر دی او د پوهنتون اداره هم هڅه کوي، چې د خپلو محصلینو غوښتنو ته په کتو درسي ټایمونه جوړ کړي، نو د ورځې په دریو ټایمونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي. د دغه پوهنتون د اداري په خبره، دا چې محصلین یې ډېری د دولتي او خصوصي ادارو کار کوونکي دي او یا هم خپله شخصي کاروبار لري، نو د هغوی اړتیا ته په کتو یې ورته درسي ټایمونه هم برابر کړي دي.

دا چې له یوه اړخه د لوړو زده کړو وزارت لخوا خصوصي پوهنتونونو ته د نویو پوهنځیو او ماسټرۍ پروګرام د منظورۍ چارې ځنډېدلې دي او د جهان پوهنتون اداري هم هغه معیارونه نه دي پوره کړي، چې د ماسټرۍ د پروګرام لپاره په پام کې نیول شوي، نو د ماسټرۍ پروګرام نه لري. د یاد پوهنتون مسوولین وایي، هڅه کوي چې د معیارونو تر پوره کولو وروسته، په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي او محصلین ورته جذب کړي.

جهان پوهنتون په کور دننه او بهر له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري، چې له مخې یې د هغوی له تجربو او تدریسي مېتود څخه ګټه اخلي. د شاه مقصود په خبره، په هېواد کې دننه له ډېری دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره په اړیکه کې دي. نوموړی وایي، له دولتي پوهنتونونو پرته خصوصي پوهنتونونه خپله یوه اتحادیه لري، چې له مخې یې په هېواد کې ټول خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې، وخت ناوخت خپل معلومات، تجربې او ستونزې له یو او بل سره شریکولی شي. دغه راز جهان پوهنتون له هېواده بهر هم په هند، ترکیه او ځینو نورو هېوادونو کې له پوهنتونونو سره اړیکه لري، چې د مسوولینو په خبره یې کېدای شي په راتلونکي کې خپل ځینې محصلین او استادان د ماسټرۍ او دوکتورا پروګرام دتعقیبولو لپاره ور ولېږي.

دغه پوهنتون د خپلو محصلینو او استادانو لپاره دوه کتابتونونه په پام کې نیولي، څو محصلین او استادان د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه ترې واخلي. د دغه پوهنتون د اداري مسوول شاه مقصود په خبره، په کتابتونونو کې یې لږترلږه ۱۵۰۰ بېلابېل کتابونه ځای پر ځای کړي او هڅه کوي چې کتابتون لا غني او یوه برخه یې ډجیټلي کړي، څو له پوهنتون څخه بهر هم محصلین وکولی شي وخت ناوخت کتابتون ته لاسرسی ولري او د خپلې خوښې وړ کتابونه پیدا او مطالعه یې کړي.

جهان پوهنتون هر کال د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره، بېلابېل اونیز، میاشتني، مهالني او کلني ورکشاپونه او سمینارونه دایروي. ښاغلی شاه مقصود وایي، هر کال لږترلږه ۵۵ بېلابېل کورسونه د خپلو محصلینو لپاره دایروي. نوموړی وایي، موخه یې له دغه کار څخه دا ده چې په اړوندو برخو کې یې محصلین تجربې وکړي او وړتیاوې یې لوړې شي، څو وکولی شي له فراغت وروسته په اسانۍ سره د ځان لپاره دنده پیدا کړي او له هغه وروسته په دنده کې پرمختګ وکړي. نوموړی وایي، ټولې اداري اوس داسې کسان پر دندو ګوماري، چې په خپله څانګه کې کاري تجربه ولري، نو دا چې محصل له دې وړاندې کار نه وي کړی، نو د دندې په پیدا کولو کې له ستونزو سره مخ کېږي او زړه یې ماتېږي. نوموړی وایي، له همدې کبله دوی د خپلو محصلینو لپاره بېلابېل وړیا کورسونه په پام کې نیولي، چې د تجربې تر لاسه کولو او وړتیاوو لوړولو کې ور سره ډېره مرسته کوي.

د دغه پوهنتون مسوولین وایي، د محصلینو د تحصیلي اسنادو ټول هغه کارونه چې په پوهنتون او یا هم د لوړو زده کړو وزارت پورې اړه لري، د پوهنتون اداره یې مخ ته وړي او په دې برخه کې یې محصلین له سرګردانۍ خلاص کړي دي. د شاه مقصود په خبره، د محصل تر فراغت او مونوګراف دفاع کولو وروسته، د یاد پوهنتون اداره ژر تر ژره د هغوی په تحصیلي اسنادو پورې ټول اړوند کارونه خپله مخ ته وړي او د ترانسکرېپټ او ډیپلوم تر اخیستو وروسته، محصل ته خبر ورکوي او ورته سپاري یې.

جهان پوهنتون د هغو محصلینو لپاره چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، ځانګړی تخفیف په پام کې نیولی دی. دغه راز په کابل ښار کې د لوړو زده کړو وزارت او محلي ارګانونو پر اداري سربېره، له ځینو نورو ادارو سره هم هوکړه لیکونه لري، چې له مخې یې د هغوی لخوا دوی ته کسان ور معرفي کېږي او په ځانګړي تخفیف سره د دغه پوهنتون په بېلابېلو پوهنځیو کې لوړې زده کړې کوي.

دا سمه ده چې حکومت باید په وړیا ډول د خلکو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړي، خو دا چې کال په کال له ښوونځیو څخه زیات زده کوونکي فارغېږي او د کانکور په ازموینه کې ګډون کوي، نو لوړو زده کړو وزارت نه شي کولای چې یوازې په دولتي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې په دومره لوړه کچه نوي محصلین جذب کړي. د دې مسئلې د حل لپاره باید ګام پورته شي، خو اوس سمدستي اړتیا ده چې خصوصي سکټور هم په دې برخه کې متې را بډ وهي. خصوصي پوهنتونونه هم د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ، د همدغه وزارت له قانون او درسي نصاب سره سم فعالیت کوي او خلکو ته یې د لوړو زده کړو زمینه برابره کړې ده. داسې هم نه ده چې یوازې هغه کسان دې خصوصي پوهنتونونو ته ورځي، کوم چې دولتي پوهنتونونو ته لار نه شي پیدا کولی، بلکې ډېری کسان غواړي په دوو او دریو برخو کې لېسانس واخلي او یا ماسټري وکړي چې دا ورته په خپل هېواد کې یو لوی چانس دی.

جهان پوهنتون تر اوسه پورې یوازې په کابل ښار کې یوه مرکزي څانګه لري. د دغه پوهنتون مسوولین وایي، په ولایتونو کې تر اوسه پورې د کومې څانګې د پرانیستو هوډ نه لري او غواړي همدې یوې څانګې ته د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او قوانینو کې پرمختګ ورکړي او وړاندې ولاړ شي. د جهان پوهنتون اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې پر خصوصي پوهنتونونو لا نور هم نظارت زیات کړي، مثبت کارونه یې تقدیر کړي او د سرغړونې یا کم کارۍ په صورت کې ور سره قانوني چلند وکړي.

د دې تر څنګ، ځینې محصلین دېته زړه خوري چې ګواکې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو په اسنادو کې توپیر دی او په خبره یې د دولتي پوهنتونونو تحصیلي اسناد د خصوصي پوهنتونونو په پرتله د ارزښت وړ دي. د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې په دې برخه کې پراخ کمپاین وکړي او محصلین قانع کړي، چې ټول تحصیلي اسناد د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورکول کېږي، تاییدېږي او یو ډول ارزښت لري.



# باعزته سوله څه مانا؟

لیکنه: محمد اسمعیل یون

کله چې یو څوک نه غواړي، یو کار ترسره کړي، نو د هغه پر ضد بیا بېلابېل دلایل او پلمې لټوي. اوس د سولې لپاره هم قیدونه او شرطونه وړاندې کېږي. سره له دې چې جمهور رییس غني ویلي وو چې د سولې لپاره سر ورکولو ته هم تیار دی او طالبان هم باید له قید او شرط پرته سولې ته غاړه کېږدي، خو اوس چې سولې ته د امریکایانو او طالبانو د تمایل ځرک لگېږي، تر ټولو دمخه ډاکټر غني د سولې پر وړاندې داسې قیدونه او شرطونه وړاندې کړي، چې د اندازې او معیار معلومول یې اسانه کار نه دی. «باعزته» او «دایمي»، دا هغه کلمې دي چې د (سولې) تر نوم او اصطلاح د مخه کارول کېږي او د هغې ځرنگوالی تشریح کوي. په پښتو کې (صفت) او (قید) تر نوم دمخه راځي او د هغه نوم حالت تشریح کوي.

دلته «باعزته» او «دایمي» دواړه هغه توصیفي قیدونه دي، چې د (سولې) راتلونکی ځرنگوالی تشریح کوي او د هغې لپاره قیدي الزامات برابروي. په دې مانا چې که له سولې څخه دا «باعزته» او «دایمي» صفتونه او قیدونه لرې کړو، نو یوازې «سوله» پاتې کېږي، خو دا ډول سوله بیا د غني او گډوله حکومت په مزاج برابره نه ده.

اوس چې د سولې لپاره دا ډول قیدونه وړاندې کېږي، راځئ چې دغه بل طرف ته هم دا ډول قیدونه وړاندې کړو: باعزته دولت، باعزته حکومت، باعزته قضایه قوه، باعزته پارلمان، باعزته ولسمشر، باعزته مرستیالان، باعزته سیاسي گوندونه، باعزته ټاکنې او نورې باعزته باعزته تقاضاوې.

اوس که له ولسمشر څخه وپوښتل شي چې ته او وجدان دې چې گډوله حکومت باعزته دی؟ پر اساسي قانون پښه اېښودل باعزته کار و؟ لومړی مرستیال دې باعزته دی؟ محقق او د گډوله حکومت نور ارکان دې باعزته دي؟ تېرې ټاکنې چې دې وکړې هغه باعزته وې؟ ټاکنیز کمېسیونونه باعزته وو؟ دغه هیئت چې قطر ته دې ټاکلی و، دا ټول باعزته اشخاص وو؟ دغه تنظیمي مشران چې کابل یې وران کړی او اوس د سولې شورا او پخلاینې شورا په راس کې دي، دا ټول باعزته او پاک نفسه خلک دي؟ دا تېر پارلمان چې ستاسو په حاکمیت کې یې خپل عمر وغځاوه، دا باعزته و؟ او نور ډېر بې عزته اشخاص چې اوس د باعزته خلکو په نامه مسمی دي، دا ټول په حقیقت کې باعزته دي؟ نو د خدای (ج)، رسول الله (ص) او د دغه مظلوم ملت په خاطر د سولې لپاره قصدي او ناقصدي قیدونه مه جوړوئ. ټول پر دې پوهېږي چې له دغه ډول قیدونو او بندونو څخه اصلي موخه څه ده؟ اوس هم وخت شته، فکر وکړئ، ستا عزت او عفت د دغه گډوله او وراسته حکومت په تداوم کې نه دی. ستا عزت په سوله کې دی. تا ته دوه ستر مسوولیته در په غاړه دي، یو دا چې د دې وراسته، چینجن او گوزڼ وهلي حکومت درمل وکړې؛ پر یو پاخه او مستحکم حکومت یې بدل کړې، خو په خواشینۍ سره چې په دې برخه کې دې ډېر وخت او فرصتونه له لاسه ورکړي او دویم مسوولیت دې دا دی چې د سولې او ثبات لپاره گامونه پورته کړې. دا دویم کار کې هم ستا گټه ده، هم د ملت، هم د وطن او هم د خدای (ج) او د هغه د رسول (ص) رضایت پکې خوندي دی.

اوس ستا پر اوږه د هېواد قسم خوړلو دښمنانو ټوپک اېښی، ستا له شا د سولې پر نویو ټوکېدلو غړونو ډزې کوي. حقیقت دا دی چې د حکومت غوښنه برخه اوس هم د جگړه ییزو تنظیمونو او په تېره بیا د اسلامي جمعیت او نظار شورا په لاس کې ده. هغوی هېڅکله سوله نه غواړي، که ته سوله د عبدالرب رسول سیاف، یونس قانوني، حاجي محقق، کریم خلیلي، امرالله صالح او نورو له لیدلورو گورې، نو دا لیدلوري خو د هغوی له ماضي سره تړلي او مستقیماً د جگړې د اور بټۍ ته رسېږي. که حافظه لرې، هغه ورځې دې هم راپه یاد کړه چې امرالله صالح د عبدالله عبدالله لپاره سرسخته کمپاین کاوه او ما (یون) ستاسو لپاره. هغه په پښتونستان واټ کې ستا پر ضد د مظاهرې اورپکی گډونوال و او زه ستا په پلوۍ د کابل په یکه توت او هوتخېلو کې. هغه به له خپلو ټلوېزیونو څخه ستاسو پر ضد نشرات کول او ما به له خپلو ټلوېزیونو ستا په گټه. هغوی به نامتمرکز او پاشلی حکومت غوښته او موږ به یو قوي او مرکزي حکومت. هغوی به ته فاشېست او یهودي گڼلې او موږ به یو ملتپال. هغوی درباندې یو گډوله ائتلافي حکومت ومانه او موږ د یو بشپړ انتخابي حکومت پلویان وو. دا دی هغوی بېرته د حکومت او قدرت برخه شول او موږ له حکومته بهر پاتې شوو. دا یو مثال مې یوازې د غني د متضادو حرکتونو او قضاوتونو د تمثیل په خاطر لوستونکو ته وړاندې کړ.

اوس یو ځل بیا د نظار شورا کرکټرونه چې د حکومت نیمه برخه یې د عبدالله په وجود کې اشغال کړې ده او اوس د غني په پوټکي کې هم ننوتي، غواړي د غني د ناثباته فکري او احساساتي جوړښت له امله د غني له ادرسه پر سولې او د سولې پر بهیر گوزار وکړي. هم غني د تاریخ کندې ته ټېل وهي او هم افغانستان یو ځل بیا د تېرو کلونو جگړه ییز حالت ته بوځي، نو ځکه خو هم پر غني او هم د هغه پر شاوخوا څو تنو ملتپالو حکومتي اشخاصو او هم پر عام افغان ملت غږ کوم، چې ټول د سولې بهیر ته ودانگئ، هم غني وژغورئ، هم حکومت له مافیایي کړیو خلاص کړئ او هم هېواد وژغورئ، سوله راسته کړئ، سوله په هېواد کې د زرو ناروغیو علاج دی.

سوله غني له فکري بې ثباتۍ ژغورلای شي، سوله انتخاباتي ټکټونه د نظار شورا له یرغملۍ خلاصولای شي. سوله ازادو ټاکنو ته لاره برابرولای شي. سوله د اقلیتونو د حقوقو د مدعیانو د ناوړه باج اخیستو مخه ډب کولای شي. سوله غني د عطامحمد نور او دین محمد جرئت له پټکو ژغورلای شي، سوله د طالبانو پوځي زور ختمولای شي، سوله په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا ده، په سوله کې عزت دی، په سوله کې بیارغونه، پرمختگ او نوي جوړونه ده. لنډه دا چې سوله هغه څه کولای شي چې نور هېڅ ډول وسایل او دلایل یې نه شي ترسره کولای.

## شاناهان: د افغان جگړې د پای ته رسولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوو

د امریکا دفاع وزیر او د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد پر افغان سولې خبرې کړې دي.

د امریکا د دفاع سرپرست وزیر، پاټریک شاناهان په خپل ټوېټر لیکلي، چې د دفاع وزارت په مقر کې یې له ډاکټر زلمي خلیلزاد سره لیدلي دي.

نوموړي ویلي، چې دوی دواړو د افغان سولې پروسې لپاره پر روانو هلو ځلو په تفصیل سره خبرې کړې دي.

هغه زیاته کړې: «په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسولو او ورته د یوې سیاسي حللارې موندلو په موخه به په گډه خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوو».



د امریکا د دفاع وزارت سرپرست ویلي، چې دی د بهرنیو چارو له وزیر مایک پامپیو او زلمي خلیلزاد څخه په گډه غواړي، چې د سویلي اسیا لپاره د ولسمشر ټرمپ د اعلان شوې ستراتېژۍ هدفونه ترلاسه کړي.

زلمی خلیلزاد چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړی استازی ټاکل شوی، تر اوسه یې سیمې ته شپږ سفرونه کړي او پنځه ځلې یې له طالبانو سره په قطر کې لیدلي دي.

نوموړي چې څو ورځې مخکې، د افغان سولې په تړاو په شپږم سفر راوتلی و، د افغانستان او پاکستان په گډون یې شپږو هېوادونو ته سفرونه وکړل او له هغوی سره د افغان سولې پر پروسې یې سلا مشورې کړې دي.

ټاکل شوې وه چې تېره اونۍ په قطر کې له طالبانو سره شپږم پړاو خبرې پیل شي، خو د ځینو اختلافونو له امله وځنډېدې.

بل خوا په قطر کې د کرکېچونو او بشري مطالعاتو مرکز، چې د دې غونډې د تنظیم مسوولیت یې اخیستی و، ویلي چې یاده غونډه لغوه شوې ده.

د دغه مرکز مشر په ټوېټر کې لیکلي وو، چې لومړی باید پر دې چې کوم کسان په دې غونډه کې گډون وکړي، موافقه وشي.

## سولې شورا: له طالبانو سره د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره هڅې دوام لري

د سولې عالي شورا ویلي، چې له طالبانو سره د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره هڅې دوام لري.

د قطر د غونډې له لغوه کېدو وروسته، دې شورا ویلي چې له ځینو هېوادونو سره په همغږۍ، د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره هلې ځلې دوام لري.

د دې شورا ویاند غفور احمد جاوید ویلي، چې د سولې روانې خبرې حساس پړاو ته رسېدلې او د قطر غونډې لغوه کېدل نه شي کولای چې روانې هڅې ودروي.

نوموړي په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي، چې له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د پیلېدو لپاره به له ټولو امکاناتو کار واخیستل شي.

نوموړي زیاته کړې: «د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره هڅې دوام لري. د افغانستان سوله د سیمې او نړۍ همکارۍ ته اړتیا لري. په دې برخه کې هر څوک چې له موږ سره مرسته کوي او مرسته یې د سولې له عالي شورا او د افغانستان له خلکو سره همغږې وي، هرکلی یې کوو. موږ بېلابېلې پروسې کاروو، ترڅو افغانستان سولې ته ورسېږي».



خو نوموړي دا نه دي ویلي، چې دا ځل به بین‌الافغاني مذاکرات کله او په کوم هېواد کې ترسره شي.

د سولې عالي شورا دغه څرگندونې داسې مهال کوي، چې په قطر کې بین‌الافغاني مذاکرات چې ټاکل شوې وه، د تېرې جمعې په ورځ پیل شي، لغوه شول او افغان حکومت یې ملامتي پر قطر واچوله.

دې غونډې ته افغان حکومت د ۲۵۰ کسانو نوملړ اعلان کړی و، چې سیاسي شخړې، د بېلابېلو قشرونو استازي او ځینې حکومتي چارواکي پکې شامل وو.

د دې غونډې له لغوه کېدو سره داسې اندېښنې پیدا شوې، چې ممکن د سولې روانې هلې ځلې څه ناڅه ټکنۍ شي.

بلخوا د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي، چې د خبرو اترو لپاره هېڅ بدیل نشته او دوی په دې برخه کې همکارۍ ته چمتو دي. په ورته وخت کې د ولسي جرگې غړو ویلي، چې له طالبانو سره د خبرو اترو په برخه کې له رامنځته شوي فرصته باید گټه واخیستل شي.

د دې جرگې د نړیوالو اړیکو کمېسیون غړې گل‌پاچا مجیدي ویلي: «له سیاسي او ډیپلوماټیکو لارو په تېره د پاکستان، ایران، روسیې، امریکا او د قطر له طریقه چې له طالبانو سره نږدې اړیکې هم لري، باید گټه واخیستل شي. زه فکر کوم چې ښه امکانات برابر شوي او باید له دې استفاده وشي، ترڅو طالبان د خبرو مېز ته کېني او اوس دا امکانات برابر دي».

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷۰ |
| € | ۸٦,۹۰ |
| Rp. | ۵۳٤ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,٤۰ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د غويي لومړی | د ۲۰۱۹ د اپریل ۲۱مه | دویم کال | ۳٦٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲٤ | ۲۳ | ۳٤ | ۲۰ | ۳۲ | ۲۸ |
| ۱۱ | ۱۰ | ۱۷ | ۱۲ | ۱۹ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:٤۷ | لمر ختل ۰۵:۱۹ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیګر ۰۳:۳٤ | ماښام ۰٦:۲۹ | ماخوستن ۰۸:۰۰

## نړۍ



# قریشي: د بلوچستان په وروستۍ پېښه کې ایران لاس لري

۲

## نامزدان انتخابات ریاست جمهوری:
# طرح بدیل برای ادامۀ حکومت پس از اول جوزا را به زودی تهیه و پیشکش می‌کنیم




شماری از نامزدان انتخابات ریاست جمهوری می گویند، به دلیل اینکه عمر حکومت وحدت ملی در اول جوزا پایان می یابد؛ آنان طرح بدیل برای ادامۀ حکومت پس از اول جوزا را تهیه و به زودی با مردم افغانستان و جامعۀ جهانی پیشکش می کنند.

آنان مدعی اند که ادامۀ کار حکومت موجود از اول جوزا سال روان به بعد مشروعیت سیاسی، حقوقی، قانونی و مصلحتی ندارد.

در خبرنامه یی که از تیم های انتخاباتی مربوط به احمدولی مسعود، رحمت‌الله نبیل، عنایت‌الله حفیظ، غلام‌فاروق نجرابی، فرامرز تمنا، محمدابراهیم الکوزی، محمدحکیم تورسن، محمدحنیف اتمر، محمدشهاب حکیمی، نورالرحمان لیوال و نورالحق علومی به آژانس خبری پژواک مواصلت ورزیده، آمده است: «ما نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، در نشست ۳۰ حمل ۱۳۹۸ یک بار دیگر تأکید و فیصله کردیم که بر اساس قانون، عمر حکومت کنونی در اول جوزا سال روان به پایان می‌رسد و ادامه کار حکومت موجود، از آن تاریخ به بعد مشروعیت سیاسی، حقوقی، قانونی و مصلحتی ندارد».

اعلامیه افزوده است: «طرح بدیل برای ادامۀ حکومت مشروع پس از اول جوزا را به زودی با مردم افغانستان و جامعه جهانی پیش کش می‌کنیم و عملی شدن آن را مطالبه خواهیم کرد».

منبع با بیان اینکه آنها هیچگونه توافقی با ایجاد حکومت موقت پس از اول جوزا سال روان نکرده اند، افزوده است: «اظهارات و شایعات اخیر مبنی بر توافق ما نامزدان انتخابات ریاست جمهوری به تشکیل حکومت موقت؛ نادرست بوده است و موضع ما نیست».

منبع همچنان افزوده است: «ما یکبار دیگر تأکید می‌داریم که از گذشته تا اکنون، طرفدار شکل گیری حکومت موقت نیستیم؛ اما ادامه کار یک حکومت غیر قانونی و غیر مشروع را نیز نمی خواهیم. بنابراین، به زودی طرح بدیل مان برای بعد از اول جوزا سال روان را با جزئیات کامل آن، در یک کنفرانس خبری ارائه می کنیم».

# کانګرېس د مولر د بشپړ رپوټ غوښتنه کړې ده




د امریکا د کانګرېس استازو جرګې د قضایي چارو کمېټې په رسمي احضارلیک کې غوښتي، چې د ځانګړي مفتش رابرټ مولر رپوټ دې په بشپړ ډول ورته وسپارل شي.

دې کمېټې ویلي چې د دغه رپوټ هغه خلاصه شوې کاپي، چې د لوی څارنوال ویلیم بار له لوري ورته سپارل شوې، د کانګرېس د ډېرو غړو له نظره کافي وضاحت نه لري.

دا چې ځانګړي مفتش رابرټ مولر په دې اړه چې روسیې په ۲۰۱٦ ز کال کې د امریکا د جمهوري ریاست په ټاکنو کې لاسوهنه کړې که نه او د ټرمپ ټاکنیز کمپاین له روسیې سره څه ډول اړیکې درلودې، د خپلو څېړنو پایلې په یوه رپوټ کې د امریکا لوی څارنوال ته سپارلې دي.


د لوی څارنوال دفتر دغه رپوټ خلاصه کړی او د ځینو مهمو اسنادو او موادو له اخیستو وروسته یې، په کانګرېس کې د استازو جرګې د قضایي چارو کمېټې ته استولی دی.

د دې کمېټې مشر او ډیموکراټ جرولډ ناډلر ورمه ورځ په دې اړه ویلي، داسې معلومېږي چې د مولر د څېړنې مهمې برخې له هغه رپوټه چې دوی ته وړاندې شوی، ایستل شوې دي.

لوی څارنوال ته د مې میاشتې تر لومړۍ نېټې وخت ورکړل شوی و، چې په دې اړه څارنوالۍ ته بشپړ رپوټ واستوي.

هغه څارنوالۍ ته په استولي لیک کې لیکلي، چې د قضایي چارو کمېټه حق لري څو بشپړ رپوټ تر لاسه کړي، خو په همدې کمېټه کې جمهوري غوښتونکي دګ کولېنز ویلي، چې جرولډ ناډلر د سیاسي ګټې لپاره دا غوښتنه کړې ده.

# امریکايي څارنوالانو روسۍ ماریا بوتینا ته د ۱۸ میاشتني بند سزا غوښتنه کړې ده



امریکايي څارنوالانو د دغه هېواد له محکمې غوښتي، چې روسۍ ماریا بوتینا ته دې د اتلسو میاشتو بند سزا ورکړي.

دا په داسې حال کې ده، چې نوموړې تېر کال د ناراجسټر شوې بهرنۍ اجنټې په توګه د توطیې تور ومانه.

امریکايي څارنوالانو محکمې ته په یوه یادانښت کې لیکلي: «په دې قضیه کې ترسره شوي فعالیتونه د روسیې د هغې لویې توطیې برخه ده، چې غواړي معلومات راټول کړي او د اړیکو او ارتباطاتو داسې چینلونه رامنځته کړي، چې د روسیې د فدراسیون په ګټه ترې کار واخیستل شي». بوتینا د تېر ۲۰۱۸ زېږدیز کال په ډسمبر کې خپل جرم ومانه او ژمنه یې وکړه، چې له پلټونکو سره به همکاري کوي.

ټاکل شوې چې د اپریل په ۲٦ مه د واشنګټن فدرالي محکمه پر نوموړې د سزا حکم وکړي.

نوموړې چې د نیول کېدو له ورځې په زندان کې ده، تر پنځو کلونو پورې په بند محکومېدای شي.

د ماریا بوتینا نیونې او پرې د تورونو لګولو د واشنګټن او مسکو ترمنځ اړیکې لا ترینګلې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د وینزویلا او نورو نړیوالو مسایلو له کبله د امریکا او روسیې ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي.

## ژونـــد

# بادام د شکرې او الزایمر ناروغۍ مخنیوی کوي



ډېر به مو اورېدلي وي چې بادام د ذهن پیاوړتیا ته ښه دي. بادام نه یوازې د مغز حجرو ته ښه دي، بلکې ډېرې نورې روغتیايي ګټې هم لري. طبیعي او داسې بادام چې مالګه ورسره نه وي ګډه شوې، ډېر غوره غذايي مواد دي چې ډېرې روغتیايي ګټې لري. بادام له منرالونو ډک دي او د وچو مېوو تر ټولو غوره ډول بلل شوی دی. د ورځې یو موټی بادام ستاسو د زړه سلامتي یقیني کوي، د زیات وزن مخه نیسي او د شکرې او الزایمر په څېر مو له مزمنو ناروغیو څخه ساتي. د ورځې د څو بادامو خوړل ستاسو په ورځني غذايي رژیم کې ځینې حیاتي مغذي مواد ور زیاتولی شي. بادام د ویټامین E، کلسیم، مګنېزیم او پوتاشیم له پلوه بډای دي. پر دې سربېره، بادام د پام وړ پروټین او فایبر هم لري او په طبیعي توګه یې خوږه کمه ده. په شلو بادامو کې له ۱۲۰-۱۳۰ پورې کالوري موجوده ده. سره له دې چې دا کالوري تر ډېره له غوړو څخه ده، خو دا لومړۍ درجه صحي غیرې مشبوع غوړي هم دي.

# مشوره او ګټې یې



د اندونو شریکول، د همکاریو د زیاتوالي او د نوښت د پنځېدو تر ټولو قوي او ښه لاره ده. د پیاوړو مدیرانو تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده چې د خپلو کارکوونکو خبرو ته په ډېر دقت غوږ نیسي. پیاوړي مدیران په دې اند دي چې که غواړي کاروبار مو پراختیا وکړي، نو د خپلو مامورینو خبرو او سپارښتنو ته ارزښت ورکړئ. مدیران باید د خپلو کارکوونکو لپاره داسې چاپېریال برابر کړي، څو دوی په ازاد ډول وکړای شي چې خپله نظریه وړاندې کړي. د دې لپاره چې فکري جرقه رامنځته شي او نوښت مو را وبښ شي، د ګډون کوونکو کسانو شمېر باید له اوو زیات او له څلورو کم نه وي. که یې شمېر له څلورو کم وي، دلته بیا د اندونو په شریکولو کې ستونزه پیدا کېږي، چې له لږو افکارو د یو څه ټاکل ستونزمن کېږي، خو که یې شمېر له اوو لوړ شي، بیاهم خبره ستونزمنه کېږي. له جلسې څخه مو یوازینۍ موخه باید د ښو او پر ځای نظرونو ټاکل وي. هڅه وکړئ چې له ورکړل شویو نظرونو څخه هغه وټاکی چې د ټولو پرې سلا وي. ډېر ی وخت داسې کېږي چې د جلسې په وروستۍ برخه کې یو کس داسې نظر وړاندې کړي چې ټولو ته د منلو وړ وي.